د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت
د ځوانانو چارو معينيت

# د افغانستان
# د ځوانانو
# ملي پاليسي

تدوین کونکي اداره: د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د ځوانانو چارو معینیت
نیټه: ۱۳۹۳ لمریز کال د وږي ۳ مه

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت
د ځوانانو چارو معينيت

# د افغانستان
# د ځوانانو
# ملي پاليسي

# منځپانګه


| | |
|---|---|
| د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر، ډاکټر سید مخدوم رهین پیغام | ٦ |
| سریزه | ٩ |
| د پالیسۍ عمومي هدف | ١١ |
| د پالیسۍ د متن نچوړ | ١٣ |
| د پالیسۍ ارزښتونو او اصول | ١٥ |
| الف: ارزښتونه | ١٥ |
| ب: اصول | ١٦ |
| د ځوان تعریف | ١٩ |
| د پالیسۍ کلیدي ساحې | ٢٠ |
| الف: د ځوانانو لپاره کار موندنه | ٢٠ |
| ب: د ځوانانو او تنکي زلمیانو لپاره روغتیا | ٢٢ |
| ج: تعلیم، تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنه | ٢٥ |

د: مشارکت ۲۷

ه :ګډ مسائل ۲۹

د پالیسۍ د تطبیق کولو قاعده ۳۵

الف: د پالیسۍ تطبیق کول ۳۵

ب: په ملي کچه د پالیسۍ له تطبیق او همغږۍ څخه څارنه ۳۶

ج: په محلي کچه د پالیسۍ له تطبیق او همغږۍ څخه څارنه ۳۷

د: اړندو ادارو ته د بودیجې بیلول ۳۸

ه: ناظرې اداري ته د بودیجې بیلول ۳۸

د پالیسۍ د اغیزو ارزونه ۳۸

انفاذ ۳۸

# د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ځوانانو چارو معین پیغام

د لوی څښتن تعالی په نامه

د هیواد روڼ اندو او متعهدو ځوانانو!

په ډېرې خوښی او خوشالی سره باید ووایم چې په ګډې هڅې او همکارۍ سره مو وکولی شو د ځوانانو ملي پالیسي چې په حقیقت د هیواد ځوانانو د ملي وثیقې په توګه ګڼل کیږي جوړه کړو.

خوشبختانه دغه مهم ملي سند د ۱۳۹۳ لمریز کال د تلې په ۳ د افغانستان د کابینې لخوا تصویب شو.

په دې پالیسۍ کې د ځوانانو د مشارکت زمینې په پراخه او هر اړخیزه توګه په پام کې نیول شوې ده. د ځوانانو مشارکت تر څنګ په لویو ملي پروسو کې د دوی رول هم په ښه توګه روښانه شوی دی.

زمونږ ځوانان چې په تیرو دیارلسو کلونو کې د ژوندانه په بیلابیلو سیاسي، اجتماعي، فرهنګي، علمي او ورزشي برخو کې د هیواد لپاره د پام وړ لاسته راوړنې لري، د دې پالیسۍ له تطبیق کولو سره په هدفمنده او د پروګرام پر اساس به د دوی لپاره د ظرفیتونو لوړولو، مشارکت او وندې اخیستلو پراخې زمینې مساعده شي.

په دې برخه کې باید د دولتي اړوندو ادارو، مدني ټولنو او نړیوالو مؤسسو په ځانګړې توګه د ښاغلي سید مصطفی سعیدی د ځوانانو چارو معینیت د پالیسۍ او پروګرامونو له رئیس څخه مننه وکړم چې په نه ستړې کیدونکو هلو ځلو سره یې د دې ملي سند په جوړولو کې اساسي رول ولوباوه.

د افغانستان د ګرانو ځوانانو د لا بریالیتوبونو په هیله.

کامیاب واوسی



تیمور شاه اسحاقزی

د ځوانانو په چارو کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت معین

# سریزه

د افغانستان اوسني اسلامي جمهوري نظام ټینګښت ته، چې له کلونو کلونو سیاسي او اجتماعي ناکراریو وروسته یې د یوه آزاد، خپلواک او دیموکراتیک هیواد بنسټ کیښود، د هیواد په دیرش کلن تاریخ کې د اساسي بدلون په سترګه کتل کیږي. دولت، د نظام له پیل څخه تر اوسه، د افغانستان د ولس د ستونزو او اړتیاوو د رفع کولو په خاطر، د افغانستان د اساسي قانون په رڼا کې قوانین، مقررې، مصوبې او پالیسۍ طرح، تدوین او توشیح کړي دي.

د افغانستان دولت، د تیرې یوې لسیزې په ترڅ کې په بیلابیلو برخو لکه روغتیا، زده کړې، کار موندنې او سیاسي مشارکت کې د ځوانانو د ودې او پرمختګ لپاره پراخې زمینې برابرې کړې دي. خو باید وویل شي چې له دغو پرمختګونو څخه ټولو ځوانانو، نجونو او هلکانو، ګټه نده اخیستې او د هیواد د ځوان نسل د اړتیاوو پوره کولو په خاطر باید زیاته هڅه وشي.

افغانستان د نړۍ د هغو هیوادونو په ډله کې راځي چې د نفوس وده یې چټکه ده. په هیواد کې د نفوس ودې او تغییر په کال کې ۲،۰۳ سلنه ده (۱۳۹۲ لمریز کال احصائیوي کالنۍ).د افغانستان د احصاییې مرکزي اداري د ۱۳۹۲ لمریز کال د شمیرنې اټکل له مخې د افغانستان ۲۷،۵ میلیونه نفوس ٦۳ سلنه وګړي تر ۲۵ کلونو لږ عمر لري او هغه وګړي چې د ۱۵ او ۲۴ تر منځ عمر لري د افغانستان د ټول نفوس ۱۷ سلنه جوړوي. نړیوالې تجربې ښیي که هوډ وشي چې ځوانان د پرمختیایي هڅو او له بې وزلۍ سره د مبارزې په رأس کې واوسي کیدای شي زیات شمیر ځوانان د ټولنې په ګټې (Demographic Dividend) تمام شي.

افغانستان به په نږدې راتلونکې کې د تحول لسیزې[1] (۱۳۹۴ل-ک تر ۱۴۰۳ ل-

---

۱ د ۱۳۸۹ ل-ک د کابل او لیزبون د کنفرانسونو د پریکړه لیکونو په اساس د افغانستان دولت او نړیوالې ټولنې پریکړه وکړه چې د ۱۳۹۳ ل-ک وروسته به د افغانستان دولت د افغانستان امنیت د ټینګښت مسؤولیت به لري او د تحول لسیزې مشري به کوي.

ک) ته داخل شي. په همدې خاطر د افغانستان دولت باید پر ځوانانو هدفمنده او ستراتیژیکه پانګونه وکړي څو د دوی له بالقوې وس او توان څخه د هیواد په چارو کې پوره استفاده وشي.

ځوانانو د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له ملي پالیسیو او قوانینو څخه د زده کړې، فرهنګ، لوبو، د کلیو پراختیا او بیا رغونې په سکتورونو کې ګټه پورته کړې ده، خو د دریو لسیزو کورنیو ناکراریو د هیواد یو نسل د زده کړې له نعمت او د خپلو استعدادونو له ودې محروم کړل او د ملي دولت بنیراڼه یې، چې د هیواد د بیلابیلو ډلګیو په ځانګړې توګه ځوانانو لپاره خدمات عرضه کړای شي، له منځه یووړه. سربیره پر دې، هغه واړه پروګرامونه چې د دولتي ادارو او نادولتي سازمانونو له خوا تطبیق شوي او یا د تطبیق کیدو په حال کې دي، د اوږده مهال لپاره په هیڅ توګه د ځوانانو ورځ تر بلې زیاتیدونکو اړتیاوو ته د ځواب ویلو جوګه نه دي.

له همدې امله، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ځوانانو چارو معینیت د افغانستان د ځوانانو لومړنۍ ملي پالیسي جوړه کړه، څو ډاډه شي چې ځوانان پر دوی له کیدونکې پانګونې په منصفانه توګه ګټه اخلي او د دوی د ودې او پرمختګ سبب ګرځي.

د ځوانانو د ملي پالیسۍ موخه د ځوانانو د ستونزو د حل لپاره داړوندو دولتي ادارو او نادولتي سازمانونو سیستماتیکه او هراړخیزه رسیده ګي، او د هیواد په اقتصادي،اجتماعي، فرهنګي او سیاسي برخو کې د ځوانانو د استعدادونو، مهارتونو او پیاوړتیاوو د ودې او پرمختګ لپاره لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله پروګرامونو طرحه او تطبیق کول دي. د ځوانانو ملي پالیسي داسې جوړه شوې چې په بیلابیلو کچو د ځوانانو د ژوند په وضعیت کې د دایمي تغییر او بدلون سبب ګرځي او د ځوانانو د ودې او پرمختګ په برخه کې د سکتورونو په منځ کې نه همغږي رفع کوي.

## د پالیسۍ عمومي هدف

دا پالیسي د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ (Afghanistan National Development Strategy) د لرلید، د افغانستان د ملي لومړیتوبونو د پروګرام (Afghanistan National priority programme) او د زرو کلونو لپاره پراختیايي موخې (Millennuim Development Goals) په رڼا کې طرح او تدوین شوې ده. دا پالیسي د لاندنیو عمومي موخو د ترلاسه کولو لپاره جوړه شوې ده:

١- ځوانان د افغانستان د ودې او پرمختګ او په هیواد کې د بې وزلۍ له منځه وړلو په برخه کې د عمده او اغیزناکې ډلې په توګه پېژندل؛

٢- د ځوانانو اساسي اړتیاوې په ګوته کول او د دوی د تلپاتې ودې په خاطر قانوني چوکاټونه او ستراتیژیکې لارښوونې وضع کول؛

٣- د اوسنیو دولتي ادارو او خصوصي سکتور د پروګرامونو نیمګړتیاوې او تشې په نښه کول او د حل لپاره یې ګډ چوکاټونه لټول؛

٤- د ځوانانو د ودې او پرمختګ لپاره د دولتي، نادولتي، خصوصي سکتور او د ځوانانو د سازمانونو ځانګړې او متمم رول تصدیقول او د موخو د ترلاسه کولو په خاطر ګډ چوکاټ او د دوی تر منځ د ګډې هڅې روحیه پیاوړې کول؛

٥- د دولتي او نادولتي بیلابیلو ادارو تر منځ د ځوانانو د اړوندو مسئلو په موخه همغږي زیاتول؛

٦- د ځوانانو اړوند پروګرامونو او پالیسیو د اصلاح او ملاتړ لپاره د بررسۍ او ارزونې د طرحه او تطبیق کولو چوکاټ جوړول؛

۷- د ځوانانو لپاره، په ملي او محلي کچه، په سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي ډګرونو کې د ګډون او همداراز د دوی د ځواکمنتیا زمینې برابرول؛

۸- د افغانستان دولت په اساسي پالیسیو او پروګرامونو کې د ځوانانو د ودې لومړیتوبونه ځایول؛

۹- د ځوانانو د سیاسي، اقتصادي او اجتماعي اغیزناکې او تلپاتې ودې او پرمختګ په موخه د دولتي اړوندو ادارو، نړیوالو ادارو او نادولتي سازمانونو تر منځ د همغږۍ رامنځته کول او تقویه کول؛

۱۰- د ځوانانو اړتیاوو ته د رسیده ګۍ له لارې د دوی د هدفمندانه ظرفیتونو روزنه؛

۱۱- د ځوانانو د اقتصادي او اجتماعي ودې او پرمختګ لپاره د کارموندنې مناسبې او مساوي زمینې برابرول او ورڅخه ملاتړ.

# د پالیسۍ د متن نچوړ

د افغانستان د ځوانانو ملي پالیسۍ د طرحې او تدوین پریکړه ترجګړې وروسته افغانستان کې د امنیت د ټینګښت، پرمختګ، اجتماعي او اقتصادي ودې په برخه کې د هیواد د ځوانانو اړتیاوو او پیاوړتیاوو ته په پام شوې ده. ددې پالیسۍ لومړیتوبونه، په ملي او محلې کچه، د ځوانانو پر اقتصادي او اجتماعي اړتیاوو زیات متمرکز دي.

د افغانستان د ځوانانو ملي پالیسي د اسلامي مثمرو ارزښتونو پر بنسټ او د بشري حقونو، اجتماعي او اقتصادي عدالت، اجتماعي اخلاقو، ملي یووالي، وطنپالنې روحیې او ملي پرمختیا پراصولو او اساساتو جوړه شوې ده. د نن ځوانان د هیواد د سبا ورځې رهبران او برخلیک ټاکونکي دي او دا اصل د هغوی د لا پیاوړتیا او ظرفیتونو د ودې لپاره د پالیسۍ تدوینول لازمي ګرځوي.

د ځوانانو په ژوند کې پرمختګ او مثبت بدلون د افغانستان د ودې او پرمختګ سبب ګرځي. زمونږ د ملت ترقي او سرلوړي زمونږ د روزل شویو ځوانانو په قوي مټو کې نغښتې ده. په حقیقت کې، د ځوانانو ملي پالیسي د افغانستان د نفوس د زیاتیدلو له واقعیت سره تړاو لري او په دې سند کې هڅه شوې، چې د ځوانانو له انرژۍ څخه د افغانستان د تلپاتې ودې او پرمختګ لپاره اعظمي استفاده وشي.

د یوه هیواد د اقتصادي ودې کچه ددغه هیواد د ځوانانو په درک، پوهې او کاري واک پورې اړه لري چې په کار کولو سره د هیواد د اقتصادي پرمختګ په برخه کې خپله ونډه اخلې. د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د لومړیتوبونو او د یوه مرفه، باثباته او پرمختللي افغانستان لپاره ژمنو ته په پام سره، ځوانان باید د تحول لسیزې د محرکې قوې په توګه وپیژندل شي. له بلې خوا، نادولتي اداري، مدني ټولنې او مؤسسې خپلې پرمختیایي ملي موخې پر ځوانانو د ستراتیژیکې پانګونکې له لارې متمرکزې کړي. همداراز د افغانستان د ځوانانو ملي پالیسي د ځوانانو د ژوندانه د ودې او پرمختګ په چارو کې د مؤسسو او نا دولتي ادارو، په ځانګړې توګه د ځوانانو د مؤسسو رغنده رول تثبیتوي.

په حقیقت کې د افغانستان د ځوانانو ملي پالیسي د ځوانانو د پیاوړتیا لپاره لارښود دی څو له دې لارې ځوانان، دولت او نادولتي مؤسسې وکولی شي د بشري حقونو د نقض، بې وزلۍ، بیکارۍ، اجتماعي بې عدالتۍ او د نا امنیو ستونزو ته رسیده ګي وکړي. ددې پالیسۍ موخې هغه وخت ترلاسه کیدای شي چې د دولت لوړ پوړي چارواکي او د هیواد حقیقي او حکمي شخصیتونه د ځوانانو ودې او پرمختګ ته د یوه لومړیتوب په سترګه وګوري، خپل اجتماعي مسؤولیت یې وګڼي او ددې پالیسۍ د تطبیق کولو په خاطر تطبیقي ستراتیژي جوړه کړي.

د ځوانانو د اقتصادي او اجتماعي ودې او پرمختګ لپاره مناسبې او مساوي زمینې برابرول او ورڅخه ملاتړ وشي. په دې پالیسۍ کې ځوانان د افغانستان د اوسني اقتصاد د څرخ خوځښتګر او برخلیک ټاکونکي ګڼل کیږي.

هغه ځوانان چې د زده کړې له نعمت څخه محرومه شوي دي او له اجتماعي او اقتصادي پرمختګونو څخه یې لږه ګټه پورته کړې وي باید د افغانستان د ودې او پرمختیایي پروګرامونو، لکه د افغانستان د ملي لومړیتوبونو په پروګرام کې، یو ځل بیا په پام کې ونیول شي او له دوی څخه هر اړخیز ملاتړ وشي. هغه ځوانان چې په هیواد کې د ناوړه حالاتو له امله له خپلو حقونو څخه محرومه شوي او یا اوس هم په داسې شرایطو کې ژوند کوي چې دوی یې له خپلو حقونو او اجتماعي وجایبو څخه لرې ساتلي دي د افغانستان د ځوانانو د ملي پالیسۍ په لومړیتوبونو کې ځای لري. د افغانستان د ځوانانو ملي پالیسي به د ځوانانو اقتصادي او اجتماعي محرومیتونو ته، د دقیقو پروګرامونو له لارې، رسیده ګي وکړي.

په دې پالیسۍ کې درج شویو موخو ته د رسیدلو لپاره د اړوند "سکتورې" او له "سکتور" اخوا، د دولتي ادارو، مدني ټولنو او خصوصي سکتور، ترمنځ ګډې هڅې ډیرې مهمې دي. په همدې خاطر د ځوانانو د تلپاتې ودې او پرمختګ لپاره اړینه ده چې د دولتي او خصوصي سکتورنو د خدماتو عرضه کول د پروګرامونو او تصمیم نیونې په کچه همغږي شي او د ځوانانو د ملي پالیسۍ مرتبط پروګرامونو له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې طرزالعمل جوړ شي.

# د پالیسۍ ارزښتونه او اصول

د ځوانانو د ملي پالیسۍ ارزښتونه او اصول د ځوانانو د ودې او پرمختګ په برخه کې د دولت مسؤولیت روښانه کوي. ددې پالیسۍ ارزښتونه د هغو اصولو او قواعدو حدود مشخص کوي چې له مخې یې پروګرامونه طرح او تدوین کیږي. د ځوانانو د ملي پالیسۍ ارزښتونه او اصول په لاندې توګه دي:

**الف: ارزښتونه**

د ځوانانو ملي پالیسي د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون مطابق جوړه شوې ده. د افغانستان خلک د دیني اعتقاداتو، غني آدابو، فرهنګ او اجتماعي معاشرت او اخلاقیاتو څښتن دي. د هیواد ځوانان باید ددغو دیني او ملي ارزښتونو په اساس لکه سوله، عدالت او اخوت وروزل شي. د ځوانانو په ملي پالیسۍ کې دغه ارزښتونه په لاندې ډول دي:

۱- د ملي هویت ساتل او درناوی؛
۲- انساني کرامت، دین، مذهب، بشري حقونو، فرهنګ او د نورو سیاسي افکارو ته له اساسي قانون سره سم درناوی؛
۳- داجتماعي عدالت ټینګښت؛
۴- د اساسي قانون د دوه ویشتمې مادې په اساس د ځوانانو مساوي حقونه؛
۵- د اساسي قانون د درېیم څلویښتمې، څلور څلویښتمې او شپږ څلویښتمې مادې په اساس د ځوانانو او تنکیو زلمیانو پیاوړي کول؛
۶- فعال سیاسي، اقتصادي او اجتماعي مشارکت؛

۷- د افغانستان اساسي قانون ته ژمنتیا او وفاداري؛
۸- د افغانستان له دیني ارزښتونو او فرهنګي میراث څخه ساتنه.

ب: **اصول**

لاندې اصول او قواعد له دولتي جوړښتونو څخه د کره معلومات پر اساس او د ځوانانو د اقتصادي او اجتماعي ودې په برخه کې د دولتي او نادولتي ادارو د مسؤولیتونو له مخې طرح او ترتیب شوي دي. همدارز دا پالیسي د اساسي قانون د ارزښتونو او د زرکلنو لپاره پراختیایي موخو (MDG) په اساس جوړه شوې ده. دولت له هغو دولتي او نادولتي ادارو څخه چې ددغو اصولو او قواعدو په چوکاټ کې د ځوانانو لپاره خپل پروګرامونه طرح او تطبیق کوي، د قوانینو په رڼا کې، ترینه مادي او معنوي ملاتړ کوي. د ځوانانو ملي پالیسي د هیواد په سیاسي، اقتصادي او اجتماعي بهیرونو کې چې د ځوانانو پر ژوندانه اغیزه کوي، د هغوی د ګډون زمینه برابروي.

اساسي اصول او قواعد په لاندې توګه دي:

### ۱- د برابرۍ اصل

۱.۱- د ځوانانو ملي پالیسي، له تبعیض پرته، د ځوانو نجونو او هلکانو لپاره ده.

۱.۲- په منصفانه او مساویانه توګه منابعو ته د ځوانانو د لاسرسي په موخه د دوی حقونه او مکلفیتونه روښانه کول.

۱.۳- د دولت اړوندي اداري باید د محرومو، آسیب پذیرو او

ترخنګ وزګارو، روږدو او معلولیت لرونکو ځوانانو د ستونزو د هواري په خاطر ځانګړي پروګرامونه په پام کې ونیسي.

۱.٤- ټول هغه پروګرامونه چې د ځوانانو لپاره طرح او ترتیب کیږي، اصلي ګټه اخیستونکي یې ځوانې نجونې او هلکان واوسي.

۱.۵- د ځوانانو ملي پالیسي د هیواد د ځوانانو له مدني او اساسي حقونو څخه دفاع کوي. دغه پالیسي به د ځوانانو د حقونو د اعادې په خاطر د دولتي اړوندو ادارو او مدني خپلواکو ټولنو په مرسته تدابیر او اساسي امکانات په لاس کې اخلي او تعقیبوي یې. دولت مکلف دی چې له هیواد څخه بهر د ځوانو کډوالو د ودې لپاره د زمینو په برابرولو کې هڅه وکړي او د دوی له حقونو څخه دفاع وکړي.

۲- **مشارکت:** په هغو تصمیم نیونو کې د ځوانانو د حقونو او مسؤولیتونو روښانه کول، چې په یو نه یو ډول د ځوانانو ژوند ترې اغیزمنیږي.

## ۳- تطبیق او همغږي

۳.۱- د ځوانانو ملي پالیسي د اطلاعاتو، فرهنګ او ځوانانو وزارت تر مشرۍ او مدیریت لاندې، د اړوندو دولتي ادارو، مدني ټولنو سربیره د ځوانانو د ټولنو، خصوصي سکتور او نورو ملي او نړیوالو پرمختیایي ټولنو په همکارۍ او همغږي سره تطبیق کیږي.

۳.۲- د ځوانانو د ملي پالیسۍ، ستراتیژیو او پروګرامونو د تطبیق کولو د مشري او مدیریت مسؤولیت، د ولایتونو په کچه، له والیانو او ولسوالانو سره په نږدې همکارۍ د اطلاعاتو، فرهنګ او ځوانانو ریاستونو پر غاړه دی.

۳.۳- د ځوانانو د ملي پالیسۍ پر تطبیق کولو څار به د جمهوري ریاست د عالي مقام دویم مرستیال تر مشرۍ لاندې د وزیرانو، اړوندو دولتي ادارو رئیسانو او د مدني ټولنې دوو تنو با صلاحیته استازو په غړیتوب، عالي دولتي کمیسیون کوي.

## ۴- د کار ضوابط

٤.١- د افغانستان دولت د ځوانانو له ملي پالیسي څخه ملاتړ کوي. دولتي ادارې او د مدني ټولنو اړوندې ادارې دې د ځوانانو لپاره خپلې اقتصادي او اجتماعي پرمختیایي ستراتیژۍ د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت سره شریکې کړي.

٤.٢- د ځوانانو په برخه کې د دولتي ادارو او خپلواکو ټولنو ټول پلي کېدونکي پروګرامونه باید د ځوانانو د ملي پالیسۍ موخې، مقاصد او لومړیتوبونه په پام کې ونیسي.

٤.٣- د ځوانانو د پرمختیایي پروګرامونو اساسي اجزا باید د سولې، عامه امنیت، سیاسي ثبات، مساوات او اقتصادي پیاوړتیا په څېر بنسټیز ارزښتونه په ځان کې را ونغاړي.

٤.٤- هغه پروګرامونه چې د ځوانانو د ملي پالیسۍ د لومړیتوبونو له مخې طرح او تدوین شوي وي، د اطلاعاتو، فرهنګ او ځوانانو وزارت له تخنیکي او نورو لازمو همکاریو به برخمن شي.

٤.٥- د کلیو او بانډو ځوانانو د اجتماعي او اقتصادي وضعیت د ښه والي په موخه باید دولتي اړوندې ادارې ځانګړې پرمختیایي پروګرامونه پلي کړي او د تطبیق کولو په خاطر یې لازمې بشري ځواک او مالي سرچینې راغونډې کړي.

## د ځوان تعریف

په دې پالیسۍ کې ځوان هغه شخص ته ویل کیږي چې عمر یې د ۱۸ او ۳۵ کلونو تر منځ وي. که څه هم د ځوانانو ملي پالیسي د تنکیو زلمیانو(هغه شخص چې د ۱۲ کلنۍ سن بشپړ او د ۱۸ کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی) د روغتیا، زده کړې او مشارکت لپاره د پالیسۍ په بیلابیلو برخو کې روښانه لارښوونې لري. د افغانستان دولت د تنکیو زلمیانو روغتیایي او تعلیمي اړتیاوې تشخیص کړي ځکه دغه دوره د ځوانۍ دورې ته د رسیدو مهمه مرحله ده.

د ژوند د ماشومتوب مرحله چې انسان د بلوغ مرحلې لپاره چمتو کوي د فزیکي، فکري او رواني بدلونونو له مخې پیژندل کیږي. د ماشومتوب مرحله، د افغانستان د نافذه قوانینو په اساس، په دریو مرحلو باندې ویشل کیږي:

الف: غیر ممیز ماشوم هغه شخص دی چې د ۷ کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی.

ب: ممیز ماشوم هغه شخص دی چې د ۷ کلنۍ سن یې بشپړ او د ۱۲ کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی.

ج: ځوانکی طفل (تنکی ځوان) هغه شخص دی چې د ۱۲ کلنۍ سن یې بشپړ او ۱۸ کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی.

د افغانستان د جزا قانون په اساس صغیر هغه ماشوم ته ویل کیږي چې په بشپړه توګه د ۷ کلنۍ او ۱۳ کلنۍ تر منځ سن ولري. د افغانستان د کار د قانون په رڼا کې تنکی زلمی هغه شخص دی چې د ۱۴ کلنۍ سن یې بشپړ او د ۱۸ کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی.

## د پالیسۍ کلیدي ساحې

ددې پالیسۍ کلیدي ساحې د ځوانانو د اړتیاوو پر اساس ترتیب او تنظیم شوې دي او په لاندې توګه دي:

### الف: د ځوانانو لپاره کار موندنه

د دولت او نادولتي مؤسسو اړوندې پرمختیایي، تعلیمي او د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې باید له یو بل سره په همغږۍ د هیواد ځوانانو او تنکیوزلمیانو لپاره د ملي پرمختیا، د بشري سرچینو د تنظیم او د کار بازار د پروګرامونو له مخې د کارموندنې پراخې زمینې برابرې کړي.

د افغانستان دولت باید د خوندي او دوامداروکاري زمینو په برخه کې لاندې ټکي د ځوانانو د ملي پالیسۍ د لومړیتوبونو په توګه په پام کې ونیسي او د ځوانانو د اوزګارۍ له منځه وړو په خاطر د کار ړښتنې او ځو اړخیزه ستراتیژي طرح او ترتیب کړي:

۱- د محدودو کاري فرصتونو د ستونزې هوارۍ، د کار د بازار په هکله د تحقیق او کره معلوماتو نشتوالی، په ځانګړې توګه د عمر او جنسیت له مخې د کار قوې او کاري بختیا په برخه کې د معلوماتو نه شتون

۲- د ځوانانو لپاره د وړ کاري فرصتونو د زمینو برابرولو په وړاندې د شته ستونزود هوارۍ او په ځانګړې توګه د ځوانانو کار لپاره د کرنې او مالدارۍ، کلیو پراختیا، معلوماتي ټکنالوژۍ، د معادنو کیندلو، ترانسپورت، ګرځندوی، صنعت او سوداګرۍ په سکتورونو او همداراز د اوبو بندونو جوړولو په برخه کې د پالیسي تدوینولو اړین چاپیریال رامنځته کول

۳- د ځوانانو لپاره په رسمي عامه سکتور کې د کاري زمينې برابرول او په استخدام کې شفافيت.

۴- مالي منابعو ته د ځوانانو زيات لاسرسی او د دوی مالي پوهې او د کسب او کار د مهارتونو د کچې لوړولو له لارې د ځوانانو د باثباته کار زيږونه (کار آفرينی) رواجول.

۵- د بې وزله ځوانانو لپاره د فصلي کارونو سربيره د عامه کاري پروګرامونو پراخول.

٦- په ملي کچه د تخنيکي اومسلکي زده کړو او روزنو پراخه، د وخت له غوښتنې سره سم او همغږی سيستم جوړول.

۷- د بازار له تقاضاوو سره د ښوونځيو تعليمي نصاب د سمون په موخه د دولتي او خصوصي سکتورونو تر منځ له ګډې هڅې څخه زيات ملاتړ.

۸- د رسمي او غير رسمي کار زده کولو د دورو سربيره د عامه او خصوصي زده کړو د پروګرامونو له لارې، د ځوانانو کاري تجربو د ترلاسه کولو په موخه، د کار د زده کړې پراخې زمينې برابرول.

۹- د کار د مرکزونو جوړولو سربيره د ځوانانو لپاره د کاري ځانګړيو خدماتو او حرفوي زده کړو او روزنو پراخې زمينې برابرول.

۱۰- له هيواد څخه بهر د ځوانانو لپاره د مناسبو کاري زمينو پراختيا او په هيواد کې د دوی د بيا جذبولو په موخه د ځانګړيو پروګرامونو جوړول.

۱۱- په دولت کې د معلوليت لرونکو ځوانانو لپاره د کاري زمينو

د برابرولو په خاطر د کار او ملکي خدماتو د کارکوونکو په قوانینو کې اړین تعدیلات.

۱۲- د کاري حقونو په برخه کې د ځوانانو د پوهې کچه لوړول او د افغانستان د کارگرانو ملي اتحادیې په چوکاټ کې د ځوانانو چارو ته د رسیده گۍ کمیټې جوړول.

ب: **د ځوانانو او تنکي زلمیانو لپاره روغتیا**

ځوانان ځانگړې صحي اړتیاوې لري او د ځوانانو او تنکیو زلمیانو لپاره باید صحي خدمات د صحي اساسي خدماتو د بستې په توگه عرضه شي. د عامې روغتیا وزارت د ماشومانو او تنکیو زلمیانو دروغتیا پالیسي(۱۳۸۸ تر ۱۳۹۲) او د هغې اړونده ستراتیژي له ۱۸ کلونو کم د ماشومانو او تنکي زلمیانوروغتیا لپاره جوړه شوې ده. پر دې پالیسۍ باید بیا کتنه وشي او د ځوانانو او تنکیو زلمیانو لپاره، په دې پالیسۍ کې د ځوانانو له تعریف سره سم او د شواهدو په اساس د پالیسۍ او ستراتیژي روښانه لارښوونې منعکسې شي. د تنکیو زلمیانو او ځوانانو د روغتیا د ملي پالیسۍ په تدوینولو کې لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

**۱- د ځوانانو او تنکیو زلمیانو صحي حقونه**

۱.۱- د ځوانانو او تنکیو زلمیانو د روغتیا ستراتیژي تدوینول.

۱.۲- د صحي مشوروخدماتوعرضه کولو ته د لاسرسي زمینه برابرول.

۱.۳- تر وخت مخکې ودونو له ناوړه اغیزو په هکله د خلکو د پوهاوي د کچې لوړول.

۱.٤- د زیږون تر منځ د کافي فاصلې د گټو په اړهد غونډو او رسنیو له لارې تبلیغ او پوهاوی.

۱.۵- د هیواد د قوانینو پر اساس د زیږون، د تابعیت تذکرو او د ودنو د احوال ثبت یو اغیزمن سیستم جوړول.

۱.٦- د ساري او مزمنو ناروغیو په هکله، لکه ایدز (HIV)، د عامه پوهاوي د کچې لوړول.

## ۲- اعتیاد

۲.۱- د نشیي توکود استعمال ناوړو اغیزو په هکله د ځوانانو د پوهاوي کچې لوړول.

۲.۲- په مخدره توکو د روږدو ځوانانو لپاره د دوستانه بشري خدمتونو د وړاندې کول، د آسانتیاوو ډېرول او د اعتیاد پریښودلو خدماتو ته د لاسرسی کچه، په ملي او محلي کچه، لوړول.

۲.۳- له نشیي توکو او اعتیاد سره د مبارزې او د بدیل حل لټولو لپاره د منسجمو پروګرامونو ترویجول.

۲.٤- د ځوانانو او تنکیو زلمیانو په منځ کې اسلامي زده کړه او روزنه ترویجول ترڅو د الکولي مشروباتو او نورو مخدره توکو له استعمال او اعتیاد څخه مخنیوی وشي.

## ۳- د ځوانانو او تنکیو زلمیانو رواني روغتیا

۳.۱- په افغانستان کې د ځوانانو او تنکیو زلمیانو د رواني روغتیا په هکله د څېړونو ترویجول.

۳.۲- د ځوانانو د مراجعې منسجم سیستم کیفیت او کمیت لوړول او د دوی له رواني روغتیا څخه د مراقبت په موخه د دوستانه خدماتو وړاندې کول.

۳.۳- د خپګان، اضطراب اود ذهني ټکان د فشار ناروغي (Post Traumatic Stress Disorder) سربیره د رواني روغتیا عمومي مسئلو په هکله د عامه پوهاوي او حساسیتونو د کچې لوړول.

## ۴- جنسي تاوتريخوالی

٤.١- د تاوتريخوالي د زيانونو او د کورني تاوتريخوالي د مخنیوي په هکله د عامه پوهاوي د کچې لوړول.

٤.٢- د تاوتريخوالي د قربانیانو د حقونو د اعاده کولو په موخه د قانون پلي کول.

٤.٣- د تاوتريخوالي په برخه کې د قانون د تنفيذ کونکو ادارو روزنه او پاملرنه راجلبول او د تاوتريخوالي قربانیانو د ساتنې په خاطر لارې چارې لټول.

٤.٤- د تاوتريخوالو د ډولونو په هکله د صحي او اجرائیوي کارکونکو روزل او پاملرنې راجلبول.

٤.٥- د جنسي تاوتريخوالي د قربانیانو لپاره دوستانه او مصؤنه چاپیریال جوړول.

## ۵- د روغ ژوندانه طریقه

٥.١- د رسمي او غیر رسمي تعلیماتو په نصاب کې د صحي، تغذیې او د لوبو د صحي ګټو زده کړه شاملول.

٥.٢- د روغ ژوندانه د طریقې په هکله د عامه پوهاوي د کچې لوړول.

٥.٣- د ځوانانو لپاره د لوبو او سرګرمیو دوستانه او د لاسرسي وړ سهولتونو زمینې برابرول.

## ج: تعلیم، تخنیکي او مسلکي زده کړې او روزنه

د افغانستان په ډیرو ولایتونو کې، په ځانګړې توګه په کلیو او بانډو کې، تعلیمي زیربناوې، د کیمیت او کیفیت له پلوه، ودې ته اړتیا لري. دولت او خصوصي سکتور باید په ګډه دتعلیم، تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو امکاناتو ته د لاسرسۍ آسانه او پراخې زمینې، په ځانګړې توګه د ځوانو ښځو او نجونو لپاره، برابر کړي. ټولې دولتي او نادولتي اداري باید د ځوانانو او تنکیو زلمیانو د زده کړې په برخه کې لاندې لارښوونې مراعات کړي:

١- د اسلامي زده کړو خدماتو ته وده ورکول.

٢- د محرومو ځوانانو او تنکیو زلمیانو، په ځانګړې توګه د معلولیت لرونکو ځوانانو او هغو ځوانو ښځو او نجونو لپاره چې په کلیو او بانډو او د هیواد په لرې پرتو سیمو کې اوسیږي د با کیفیته او مصؤنه زده کړې پراخې زمینې برابرول.

٣- په تعلیمی او تحصیلی سکتورونو کې د اړوندو دولتي ادارو د مدیریت کیفیت لوړول.

۴- په ټول هیواد کې د معیاري زده کړو داسې سیستم جوړول چې انعطاف پذیره، مشارکتي او د دیني او فرهنګي پلوه ښوونیز واوسي.

۵- د لاندې لارو چارو په وسیله د تخنیکي او مسلکي زده کړو او روزنو ته لاسرسۍ او د سیستم کیفیت لوړول:

۵.١- په مجموع کې د افغانستان د وړتیاوو ملي چوکاټ او په ځانګړې توګه د تخنیکي او مسلکي

زده کړو او روزنو بورډ د اړتیاوو په اساس له رسمي او غیر رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو څخه ملاتړ.

۵.۲- د ځوانانو په ځانګړې توګه تخنیکي، مسلکي زده کړو او روزنو انستیتونو ته د کلیوالو ځوانانو، ځوانو ښځو، معلولیت لرونکو ځوانانو او محبوسینو لارسرسی آسانه کول.

۵.۳- د زده کړې سیستم د اهلیت له مخې د کاري ستندرد په اساس جوړول او ورته د رسمي جواز ورکول.

۵.٤- د ټولو تخنیکي، مسلکي زده کړو او روزنو د خدماتو عرضه کونکو اړوندو سکتورونو ترمنځ، د کار بازار له غوښتنو سره سم، اړینه همغږي رامنځته کول.

٦- د مشرانو زده کړه باید د زده کړې د بهیر اصلي برخه وي ترڅو په مجموع کې د مشرانو لپاره د اسلامي، تخنیکي، مسلکي زده کړو او روزنو زمینې برابرې شي.

۷- د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د زیاتې پانګې اچونې او د دولتي او خصوصي سکتورونو تر منځ د مشارکت لپاره وړ چاپیریال رامنځته کول

۸- د تعلیم، تخنیکي مسلکي زده کړو او روزنو د ارزښتونو په برخه کې د عامه پوهاوي د کچې لوړول.

۹- په هیواد کې د غیر رسمي زده کړو ترویجول چې د دیني ارزښتونو او په ټوله کې د افغانستان د خلکو ملي مصلحتونو په موخه په لار اچول کیږي.

۱۰- په ټوله عمر کې له تعلیمي فرصتونو څخه ګټه اخیستنه تشویقول ترڅو کوم تغییر چې په کاري چاپیریال کې د تکنالوژۍ د پرمختګ او د کار د پراختیا په اساس رامنځته کیږي سازګاري رامنځته شي.

۱۱- د لوړو زده کړو زمینې برابرول په ځانګړې توګه کلیوالو ځوانانو، د نجونو او هلکانو لپاره او د لوړو زده کړو په موخه د زده کونکو ظرفیتونه لوړول.

## د: مشارکت

په سیاسي، اجتماعي او اقتصادي جوړښتونو او پریکړو کې د ځوانانو ګډون د ځوانانو د ملي پالیسۍ د ساحو یوه عمده ساحه ده. په مجموع کې د ځوانانو ګډون هغه ټولې مسئلې په لمن کې رانغاړي چې په یوه ډول د دوی پر ځواکمنتیا باندې منفي او یا مثبتې اغیزې لري. ځوانان، په ملي او محلي کچه، د ټولنې د ودې او پرمختګ په برخه کې د اجتماعي او اقتصادي ودې د شریکانو په توګه باید له وړاندې په پریکړو کې شامل وي. دولت او مدني ټولنې د ځوانانو نظرونه د دوی لپاره د ځانګړو پرمختیایي پروګرامونو په طرح، تطبیق او ارزونې کې په جدي توګه په پام کې ونیسي.

لاندې ټکې د لارښوونو په توګه د ځوانانو د اغیزمن، پراخه او فعاله ګډون لپاره مراعات شي:

۱- د دیني او مدني زده کړو له لارې د ځوانانو د ښاري ژوند بالقوې ظرفیتونو روزنه او د رهبرۍ په برخه کې د ځوانانو ظرفیت لوړول؛ په ښوونځیو، مدرسو او پوهنتونونو کې د مدني زده کړو ترویجول.

۲- ځوانان په ملي او محلي کچه د پالیسیو او پروګرامونو په جوړولو او تطبیق کولو کې شاملول.

۳- په سیاسي، اجتماعي او اقتصادي تصمیم نیونو کې د ګډون لپاره د ځوانانو د استازو هڅول او له دوی څخه ملاتړ.

۴- د دولت په اجرایي پوستونو کې په کار ګمارل شویو ځوانانو ته زیاته پاملرنه او اهتمام.

۵- ځوانان د سنتي او محلي شخړو د حل په پروسو کې شریکول.

٦- د ځوانانو ږغ او د دوی د اړوندو مسئلو د منعکسه کولو په موخه مطبوعاتي چاپیریال ته وده او ورڅخه ملاتړ.

۷- د افغانستان د ځوانانو شوراګانو د جوړښت ته، د هیواد د کلیو او بانډو په کچه، وده ورکول او د ښاري او کلیوالو ځوانانو تر منځ دوامداري اړیکي ټینګول.

۸- د ځوانانو اړوندو مسئلو په هکله د دوی د نظرونو او ملاحظاتو راټولو لپاره د میکانیزمونو جوړول.

۹- په ملي او محلي کچه د ځوانانو ټولنې او شبکې تقویه کول او ورڅخه ملاتړ.

۱۰- د ملي ګټو او د هیواد لوړو مصلحتونو په خاطر د ځوانانو رضاکارانه فعالیتونه ترویجول او ورڅخه ملاتړ.

۱۱- په ملي او محلي کچه د ځوانانو، دولت او مدني ټولنو تر منځ د بحثونو ترویجول.

۱۲- په بیلابیلو برخو کې د ځوانانو ملي مشارکت لپاره د میکانیزمونو جوړول.

۱۳- د ځوانانو د حقونو په برخه کې د دولتي چارواکو، مدني

ټولنو، علماوو، قومي مشرانو او ځوانانو د پوهاوي د کچې لوړول.

۱۴- په اړوندو چارو کې د ځوانانو او تنکیو زلمیانو د نظر ورکول په برخه کې د مور او پلار د پوهاوي د کچې لوړول.

۱۵- په ښوونځیو او د لوړو زده کړود مؤسسو د تعلیمي او تحصیلي چاپیریال د چارو په هکله، د افغانستان له فرهنګ او دودونو سره سم،د ځوانانو، په ځانګړې توګه د ښځینه وو د ګډون پراخې زمینې برابرول.

۱٦- د ځوانانو د ودې او پرمختګ په برخه کې دولتي لوړپوړو چارواکو د مشورې ورکولو په موخه، په ملي او محلي کچه، د ځوانو مشاورینو رسمي پوستونه جوړول.

## هـ: ګډ مسائل

زیات شمیر هغه ننګونو او ستونزو ته چې ځوانان ورسره لاس او ګریوان دي د دولتي ادارو، مدني ټولنو او خصوصي سکتور تر منځ په ګډې هڅې سره ورته رسیده ګی کیږي. د ګډو مسئلو په اړه د پالیسی ساحې په لاندې توګه دي:

**۱- د دیني ارزښتونو په رڼا کې د نجونو او هلکانو مساوي حقونه**

د ځوانو ښځو مساوي حقونه او ځواکمنتیا د ټولنې د ودې او پرمختګ لپاره باید په جدي توګه په پام کې ونیول شي. نجونې او هلکان د خپلو استعدادونو، له منابعو څخه د ګټې اخیستلو او د شخصیت د ودې لپاره باید له قانون سره سم یو شانته حقونه ولري ترڅو دوی وکولی شي چې په اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي ودې کې فعاله ونډه واخلي.

لاندې لاربنوونې باید د پالیسۍ د ساحو په توګه په پام کې ونیول شي:

۱.۱- د بشر له حقونو څخه ساتنه او ملاتړ.

۱.۲- دولت او مدني ټولنې د ځوانانو حقوقي اړوندې مسئلې د خپلو پرمختیایي پروګرامونو په لومړیتوبونو کې په پام کې ونیسي.

۱.۳- د جندر مسئلو په هکله د ټولو اړوندو ادارو تر منځ د همغږۍ ټینګول.

۱.٤- په ښوونځیو، د لوړو زده کړو په عالي مؤسسو او د کار په ځایونو کې د ځوانانو مساوي حقونو او ځواکمنتیا روزنو ته پراختیا ورکول.

۱.٥- د اجرایي سمتونو د احرازولو او په دولتي چارو کې د ګډون په موخه د ځوانو ښځو او نجونو کاري ظرفیتونو روزل.

۱.٦- د افغانستان په جنګ ځپلو سیمو کې د ځوانانو د حقونو پروګرامونو ته پراختیا ورکول او په سیاسي، اجتماعي او اقتصادي چارو کې د دوی، په ځانګړې توګه ښځینه ووټه په زیاتې پاملرنې سره، د ګډون زمینې برابرول.

۱.۷- د هیواد ځوانانو، نجونو او هلکانو، له حقونو څخه د ملاتړ او ساتنې په موخه له قومي مشرانو او دیني علماوو سره ګډ کار.

۱.۸- ځوانې ښځې او نجونې، په ملي او محلي کچه، د پالیسیو او پروګرامونو په طرح او جوړولو کې شریکول.

۱.۹- له هغو ادارو څخه زیات ملاتړ چې د ځوانو ښځو او نجونو د استعدادونو د ودې لپاره کار کوي.

## ۲- د سولې او امنیت ټینګښت

په هیواد کې د تلپاتې سولې او امنیت ټینګښت د افغانستان د خلکو یوه ملي اړتیا ده. سوله او امنیت د ځوانانو د دوامدارې ودې لپاره زمینه برابروي. ځوانان د سولې او امنیت په ټینګښت کې رغنده رول لري.

دولت، سیاسي حزبونه او مدني ټولنې د سولې او امنیت د ټینګښت لپاره د خپلو پروګرامونو د تطبیق کولو پر مهال لاندې ټکي د پالیسۍ د ساحو په توګه په پام کې ونیسي:

۲.۱- د هغو ځوانانو لپاره د مدني زده کړو پروګرامونو وده چې د افراطیت پاللو له خطر سره مخ دي.

۲.۲- ځوانان د هیواد ملي یووالي، سولې او امنیت د ټینګښت په پروسو کې شریکول.

۲.۳- د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو سره د ځوانانو د ګډون زمینو ته، د خپلو سیمو د امنیت ساتنې په موخه، وده ورکول.

۲.٤- ځوانان د سیمییزو شخړو په هوارولو کې شریکول.

۲.٥- د ځوانانو شکایتونو ته رسیده ګي او د دوی په وړاندې اجتماعي عدالت تطبیق کول

۲.٦- د ځوانانو د پوهاوي کچه د دوی له حقونو او امتیازاتو په هکله لوړول.

۲.۷- په هیواد کې د سولې او امنیت ټینګښت په خاطر د ځوانانو د بسیج کولو ملي پروګرامونو طرحه کول.

۲.۸- سولییز ژوند ته د ځوانانو د راستنیدو پراخې زمینې برابرول او د دوی د ټولو حقونو اعاده کول.

## ۳- د لوبو وده

لوبې د ځوانانو د روغتيا، وحدت او سرگرمۍ د ترويجولو په برخه کې مهم رول لري.د افغانستان دولت او نا دولتي اداري د لوبو تعميمولو او زيربناوو د ودې په خاطر لاندې ټکي د ځوانانو پاليسۍ د ساحو په توگه په پام کې ونيسي:

۳.۱- د ځوانانو او تنکيو زلميانو تر منځ د لوبو اهميت او د سالمو سياليو روحيه ترويجول.

۳.۲- د ځوانانو او تنکيو زلميانو لپاره د لوبو ملي پاليسي جوړه شي.

۳.۳- لوبو او سرگرميو ته د ځوانانو او تنکيو زلميانو د لاسرسۍ په خاطر، په ځانگړې توگه د هيواد په کليو او لري پرتو سميو کې، پراخه آسانتياوې برابرول.

۳.٤- د لوبو له منسجمو پروگرامونو څخه ملاتړ چې له لوبو څخه د ځوانانو مسئلو ته چې د دوی لپاره لومړيتوب لري لکه روغتيا، په مخدره توکو روږدي کيدل، کار موندنه او د سولې ټينگښت ، نښلونکي په توگه کار واخيستل شي.

۳.٥- په لوبو کې د خصوصي سکتور پانگونې هڅول.

۳.٦- د افغانستان دوديزو لوبو ساتنه او وده او د ځوانانو په منځ کې يې ترويجول.

۳.۷- په ملي او محلي کچه د لوبو زيربناوې جوړول او وده ورکول.

## ٤- د چاپيريال ساتنه

څو لسيزو جگړو، بې وزلۍ او د نفوس د ودې د کچې چټکيا، د

افغانستان چاپیریال ډیر اغیزمن کړی او د هیواد ۹۰ سلنه کلیوالو ژوند چې له طبیعي زیرمو څخه د ژوندانه لپاره کار اخلي، له ستونزو سره مخ کړی دی.  په غیر قانوني توګه د ځنګلونو او ونوو پرې کول د کلیوالو ژوند چې له ځنګلونو څخه د سونګ لپاره او د بادام او پستو د صادرولو له لارې عاید ترلاسه کوي، جدي ګواښ سره مخ کړی. له بلې خوا، د ځنګلونو د ساحو کمښت او د خاورې له منځه تلل د زیاتو سیلاونو او د کرنیزو او میشتو ځمکو د ورانیدو لامل ګرځیدلی دی.

د وچکالیو او عوایدو نشتوالی له امله ښارونو ته د کلیوالو راتګ او همداراز د ۵ میلیونو کډوالو بیرته راستنیدنه چې ډیری یې په ښارونو کې میشت شوي دي په ښاري سیمو کې  پر اوبو او د کثافاتو پر مدیریت یې ناوړه اغیزه کړې ده.

د هیواد چاپیریال ساتنې او بیا رغونې لپاره د افغانستان ټولې اړوندې دولتي او نادولتي اداري د ځوانانو له فعالي وندې څخه، د لاندنیو تدابیرو په نیولو سره، ملاتړ وکړي:

٤.١-  د ځوانانو تر منځ د چاپیریال ساتنې د پوهاوي کچه، د  ښوونځیو، مدرسو او پوهنتونونو د درسي نصاب له لارې لوړول

٤.٢-  د سرسبزۍ صنعت پراختیا او د سرسبزۍ په دندو کې د ګمارولو لپاره د ځوانانو، نجونو او هلکانو، د مهارتونو روزنه

٤.٣-  د ځوانانو له هغو ټولنو څخه ملاتړ چې د چاپیریال ساتنې په برخه کې کار کوي او له هغو ځوانانو څخه ستاینه چې د چاپیریال په ساتنه کې یې هڅې کړې وي.

٤.٤-  رسنۍ، د چاپیریال ساتنې د مسئلو او لارو چارو په هکله د اطلاعاتو د خپریدو په موخه دخیلول.

۴.۵- ولس او د ځوانانو ډلو هڅونه او مکافات ترڅو د ژوندانه لپاره د عوایدو له دوامدارې لارې چارې نه ګټه واخلي.

۴.۶- د خطرونو د کمولو له هڅو او د خلکو له آمادګیو څخه ملاتړ چې د طبیعي پېښو له ګواښ سره مخامخ دي.

۴.۷- د ځوانانو ځواکمنول ترڅو دوی د اقلیم، اقلیمي عدالت د مفاهیمو او اړوندو ستراتیژیو چې د ملګرو ملتونو د اړیکو ملي کنوانسیون د اقلیمي تغییراتو دویمه برخه جوړوي او د افغانستان د چاپیریال ساتنې ملي پروګرام په برخه کې اقدام وکړي.

۴.۸- د افغانستان ځوانانو مخ پر ودې له هغو ټولنو سره ګډه هڅه چې د طبیعت لپاره کار کوي او د چاپیریال ساتنې بیارغونې په موخه د پروګرامونو او عملي اقداماتو لکه په آزاده فضا او غرونو کې په لار اچول.

۴.۹- د افغانستان له ځوانانو څخه په مستقیمه توګه ملاتړ ترڅو دوی د ځنګلونو، ځمکې، اوبو، چاپیریال، سولې، اقلیم، او تنوع زیستي ملي او نړیوالو ورځو کې خپل رول ولوبوي.

۴.۱۰- د دولت او مدني ټولنو تر منځ د چاپیریال ساتنې عالي کمیټه جوړول.

# د پالیسۍ د تطبیق کولو قاعده

لاندې قاعده، د ځوانانو ملي پالیسۍ د تطبیق او همغږۍ او همداراز د دولتي اړوندو ادارو له اجراآتو څخه د څارنې لپاره په پام کې نیول شوی ده:

**الف: د پالیسۍ تطبیق کول**

۱- **د پالیسۍ تطبیق کونکې اداري:** دولتي اداري چې د ځوانانو د ملي پالیسۍ د اړوندو برخو په تطبیق کولو کې رول لري په دې توګه دي: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ځوانانو چارو معینیت، د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، د عدلیې وزارت، د مالیې وزارت، د کار، ټولنیزو چارو، شهداوو او معلولینو وزارت، د عامې روغتیا وزارت، د ښځو چارو وزارت، له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت، د احصایې مرکزي اداره، د محلي ارګانونو خپلواکه اداره، د اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواکه اداره، د بدني روزنې، سپورټ او المپیک ملي کمیټې عمومي ریاست او نورې اړوندې اداري.

۲- **د پالیسۍ په تطبیق کولو کې د مدني ټولنو رول:** مدني ټولنې، په ملي او محلي کچه، کولی شي چې د ځوانانو ملي پالیسۍ په تطبیق کولو کې رول و لوبوي. مدني ټولنې به دوه تنه با صلاحیته استازې د ځوانانو ملي پالیسۍ له تطبیق کولو څخه د څارنې عالي کمیسیون ته او دوه تنه به په هر ولایت کې د ولایت په کچه د ځوانانو ملي پالیسۍ له تطبیق څخه د څارنې کمیسیون ته ور وپیژني. مدني

ټولنې خپلې هڅې د افغانستان له دولت او د ځوانانو چارو له معینیت سره، د پورته یاد شویو کمیسیونونو له لارې، د پالیسۍ د ساحو پربنسټ، تنظیموي.

## ب: په ملي کچه د پالیسۍ له تطبیق او همغږۍ څخه څارنه

د پالیسۍ له تطبیق او همغږۍ څخه څارنه د جمهوري ریاست د عالي مقام د دویم مرستیال په مشرۍ د ځوانانو ملي پالیسۍ له تطبیق څخه د څارنې عالي کمیسیون کوي چې د دولت ټولو اداراوو د ځوانانو مدني ټولنو دوه تنه استازې به پکې غړیتوب ولري. دغه کمیسیون، په عمومي توگه، د پالیسۍ له تطبیق او همغږۍ څخه د څارنې مسؤولیت، په ملي او محلي کچه، پر غاړه لري.

د کمیسیون رئیس د پالیسۍ د تطبیق کولو په برخه کې د دولتي ادارو راپورونه اوري او د چارو ښه والي په موخه لازمي لارښوونې کوي. دغه کمیسیون د خپلو اجراآتو راپور د وزیرانو شورا ته وړاندې کوي.

۱- **د کمیسیون نوبتي غونډې:** د ځوانانو ملي پالیسۍ د تطبیق او څارنې کمیسیون د ځوانانو له ملي پالیسۍ څخه د څارنې، راپورونو اوریدو او د لازمو لارښوونو صادرولو په موخه په هرې درې میاشتو کې یو ځل غونډه نیسي.

۲- **د کمیسیون د دارالانشاء چارې :** د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د ځوانانو ملي پالیسۍ د تطبیق او څارنې دولتي عالي کمیسیون د دارالانشاء چارې پر غاړه لري.

۳- **داخلي طرزالعمل:** کمیسیون د خپلو چارو مخته وړلو په خاطر داخلي طرزالعمل جوړ او تصویبوي.

۴- **د دارالانشاء دندې:** د دارالانشاء دندې د کميسيون په داخلي طرزالعمل کې ټاکل کيږي.

## ج: په محلي کچه د پاليسۍ له تطبيق او همغږۍ څخه څارنه

د پاليسۍ له تطبيق او همغږۍ څخه څارنه د والي په مشرۍ د ځوانانو ملي پاليسۍ له تطبيق څخه د څارنې ولايتي کميسيون کوي چې ټولو محلي ادارو او د ځوانانو مدني ټولنو دوه تنه استازې به پکې عضويت ولري. دغه کميسيون، په عمومي توګه، د پاليسۍ د تطبيق کولو او همغږۍ مسؤوليت، د ولايتونو او ولسواليو په کچه لري.

واليان د پاليسۍ د تطبيق کولو په برخه کې د دولتي ادارو راپورونه اوري او د چارو ښه والي په موخه لازمي لارښوونې کوي. ولايتي کميسيون د خپلو اجراآتو راپور د ځوانانو د پاليسۍ د تطبيق او څارنې عالي کميسيون ته وړاندې کوي.

۱- **د کميسيون نوبتي غونډې:** د ځوانانو ملي پاليسۍ څخه د څارنې او همغږۍ کميسيون، د پاليسۍ څخه د څارنې، د هڅو د همغږۍ، د راپورونو اوريدو او راتلونکو اجراآتو په موخه، د ولايتونو په کچه، په هره مياشت کې يو ځل د والي په دفتر کې غونډه نيسي.

۲- **د کميسيون د دارالانشاء چارې:** د اطلاعاتو او فرهنګ رياستونه، د ولايتونو په کچه، د پاليسۍ د تطبيق کولو کميسيون د دارالانشاء چارې پر غاړه لري.

### د: اړوندو ادارو ته د بودیجې بیلول

دولتي اداري، کله چې ماليې وزارت ته خپل پروګرامونه د عادي او انکشافي بوديجې د ترتيبولو په موخه وړاندي کوي، بايد د ځوانانو ملي پاليسۍ لومړيتوبونه په پام کې ونيسي.

### هـ: ناظرې اداري ته د بوديجې بيلول

د ځوانانو چارو معينيت د ځوانانو ملي پاليسۍ د تطبيق کونکې ناظرې او همغږي کونکې اداري په توګه خپله عادي او انکشافي بوديجه، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په چوکاټ کې او د پاليسۍ د لومړيتوبونو په اساس آماده کړي.

## د پاليسۍ د اغيزو ارزونه

د ځوانانو ملي پاليسۍ اغيزې د ځوانانو ملي استراتيژۍ د انکشافي شاخصونو په اساس په کال کې يو ځل څيړل کيږي. که اړتياوي، د ځوانانو د ملي پاليسۍ اغيزې، د پاليسۍ او تطبيقي ستراتيژۍ له تصويب کيدو وروسته، بيا ځل کتل کيږي.

## انفاذ

دا پاليسي د وزيرانو د شورا له تصويب څخه يوه مياشته وروسته نافذه کيږي.

